


**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د غصب شوی دولتی ملکیتونو په اړه چې استوګنځی ښهرکونه ورکې جوړ شوی د فقهي قاعدې (التصرف علی الرعیة منوط بالمصلحة) په رڼا کې د حل لاره:

﴿ **إن الله یأمر بالعدل والإحسان وإیتاء ذی القربی وینهی عن الفحشاء والمنکر والبغی یعظکم لعلکم تذکرون** ﴾

اسلامي فقهې او د حکومتدارۍ اصولو د ټولني او ولس په وړاندې د واکمنانو او دولتي مسؤلینو د چارو د تنظیم لپاره ډېرې بنسټیزې قاعدې رامنځته کړې دي، په دې کې تر ټولو مهمه قاعده ( التصرف علی الرعیة منوط بالمصلحة) ده؛ یعنی مانای دا ده چې: ( پر ولس او رعیت واکمني او تصرف د هغوی په مصلحت پورې تړلی دی)

د دې قاعدې له مخې، دولت او دولتي چارواکي حق نه لري چې داسې پرېکړې وکړي چې د خلکو د بېځایه کېدو، بې کور کیدو او یا لویو اقتصادي او ټولنیزو ناورینونو لامل شي، بلکې د دوی هر تصرف باید د عامه او شخصي ګټو د توازن په پام کې نیولو سره ترسره شي.

د پورتني مطلب مصداق دغه بله فقهي قاعده هم ده چې داسې وضاحت لري ( جلب المصالح و درء المفاسد ) مانا دا چې د ګټو او مصلحت جلبول او د زیانونو لرې کول.

وروسته له لنډې سریزې نه غواړم ترڅو په لنډ ډول د غصب شویو دولتي املاکو او په هغو کې د غاصبینو لخوا د ښهرکونو جوړولو ستونزې ته چې په بې کوره او بې سرپناه کسانو باندې خرڅ شوي او دغو کورونو کې اوس خلک ژوند کوي د ذکر شوي فقهي قواعدو په رڼا کې په لاندې څو مختصرو کرښو کې بحث راونغاړم:

په دې وروستیو کلونو کې، په ځینو سیمو کې دولتي ځمکې او املاک د ځینو زورواکو او غاصبینو له لوري غصب شوي او په شخصي ښارګوټو بدل شوي او بیا د بې وزلو او غریبو خلکو باندې په لوړو بیو خرڅ شوي دي. اوس مهال زرګونه کورنۍ په همدې ښارګوټو کې ژوند کوي.

کله چې د دغو دولتي ځمکو د بیرته راګرځولو خبره راځي، یو لوی قانوني، بشري او ټولنیز ناورین رامنځته کوي چې پدغه اړه باید ډېر په احتیاط سره د چارکو لخوا اجراات وشي تر څو عام او بیچاره وګړي د پخواني زورواکو او اوسني چارواکو په مقابله کې متضرره نشي مانا دا چې هم مصلحت او هم قانون پکې رعایت شي څکه دلته د ( التصرف علی الرعیة منوط بالمصلحة) قاعدې تطبیق په لاندې ډول څرګندېږي:

۱ .د قانون پلي کول او د عامه بیت‌المال ساتنه

له یوې خوا، دولتي ځمکې د ټول ملت سرمایه (بیت‌المال) دي او د غاصبینو لاسوهنه په کې جرم دی. د قانون او عدالت تقاضا دا ده چې غصب شوي املاک دې بیرته دولتي حریم ته راوګرځول شي، څو د نورو غاصبینو مخه ونیول شي.

۲ .د خلکو د مصلحت او ژوند خونديتوب (بشري اړخ)

له بلې خوا، په دغو شهرکونو کې اوسېدونکي عادي او بې‌ګناه خلک دي. دوی په کلونو کلونو حلاله روزي سپما کړې، خپل سرپناه يې په ډېرو ګرانو بيو د همدغو غاصبينو او سوداګرو څخه پيرلي ده. که چيرې دولت پرته له کوم مدبرانه او عادلانه بديل څخه دغه کورونه نړوي او خلک له کورونو وباسي، نو دا به يو لوی بشري او ټولنيز ناورين رامنځته کړي؛ چې په پايله کې به يې زرګونه بې‌ګناه کورنۍ بې‌سرپناهه، سرګردانه او په اقتصادي توګه لوې تاوان ومومې.

د اسلامي فقه او د حکومتدارۍ اصول حکم کوي چې د عامه مصلحت تر څنګ بايد د خلکو د ضرر مخه هم ونيول شي. د عامه ګټو د خونديتوب په پلمه د زرګونو کورنيو تباه کول د (مصلحت) له روح سره په کلکه په ټکر کې دي.

لکه چې دا بله فقهي قاعده حکم کوي: ( جلب المصالح و درء المفاسد) مانا دا چې کله د مصلحت او مفسد شي ترمنځ ټکر راشي بايد مصلحت ته ترجيح ورکول شي نسبت مفسد ته، او کله چې دغې مسئلې ته ګورو او د مصلحت او مفسد تر منځ توپير ارزوو نو مصلحت اړخ نسبت مفسد اړخ ته قوي بريښي ولې چې مفسد چې دولتي ځمکو غصب ده نسبت په مصلحت چې د خلکلو کورونه دي ارجحيت لري نو پدې لحاظ بايد خلک لدغو کورنونه ونه ويستل شي ولې چې دغه خلک د غاصبينو د غصب له عمل نه کاملا واقف هم نوو هغو د قانوني او شرعي اسنادو په ښودلو سره دوي قانع کړي و تر څو کورونه او ځمکې ورځيني واخلي.

د دغو دوو قاعدو په رڼا کې شرعي او قانوني د حل لارې وړانديز:

د دې لپاره چې هم د بيت‌المال او دولتي ځمکو حق تلف نشي او هم په دغو شهرکونو کې د اوسېدونکو خلکو ژوند او سرپناه هم خوندي شي، دولت بايد د يوه عاقلانه او منصفانه مصلحت پر بنسټ لاندې ګامونه پورته کړي:

- د ځمکو قسمي يا په مناسبه بيه قانوني کول: د دې پر ځای چې کورونه ونړول شي او يا کډې ورنه بار شي، دولت کولای شي د هغو خلکو لپاره چې په ښارګوټو کې يې کورونه جوړ کړي، ځمکې په رسمي توګه تثبيت کړي او د مناسبو او اسانه شرايطو له مخې يې د دوی په نوم کړي.

- البته کچيري دولت لدغو خلکو نه د ځکمې بيه اخلي بايد په منصفانه ډول وي بيا هم نبايد چې دغو وګړو ته پکې فاحش ضرر متوجې وي ولی دغو خلکو يو ځلې د دغو ځمکو بيه غاصبينو ته پري کړي ده او بيا ځلې د دغو ځمکو بيه ورکول په مناسب او دولتي ځانګړي ډير تخفيف سره بايد وي البته دا موضوع هم ورکې ضرور ده کچيري څوک د يو ځلې بيې ورکولو توان لري يو ځلې د ورکړي او که څوک توان د بيې د پري کولو نلري  څو ځلې په قسطونو د پري کړي.

- وروسته له پورتنيو تدبيرونو نه د دولت لخوا  دغو خلکوته د ځمکو او کورونو د مالکيت اسناد بايد ورکول شي.

پايله

د لندې خبرې په توګه، د ( التصرف على الرعية منوط بالمصلحة ) قاعده په ډېر روښانه ډول د دې غوښتنه کوي چې دولت بايد د خپلو پرېکړو پر مهال د ولس خير او مصلحت په پام کې ونيسي. د غصب شويو ښارکوټو په قضيه کې، حقيقي مصلحت په دې کې نه دی چې د زرګونو بې‌ګناه کورنيو کورونه ونړول شي او يا ورځيني واخيستل شي ولې چې دولتونه مکلف دي تر څو خپلو وګړو ته د سرپنا او استوګنځيو زمينه برابره کړي، نه دا چې برابر شوي استوګنځې او سرپناه ورنه واخيستل شي له همدغه کبله عاقلانه لاره داده چې د قانون حاکميت داسې تطبيق شي چې هم بيت‌المال ته رسيدګي وشي او هم د ولس سرپناه او ژوند خوندي پاتې شي.

ليکونکی: ډاکتر محمد ظريف علم (ستانکزی)